مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوځ مرادزی

۲۰۲۱ / ۰۶ / ۰۲

# عمر

لمر لا ځرک وهلی نه دی سهار تېرشو
غوټی خوله پرانیستي نه ده بهار تېرشو
د سپرلي ګلان وختي ږلی وهلي
په چمن کې د بلبلو چغار تېرشو
ژوند صحنه لکه د فیلم ځو شېبې ده
سترګو رپ کې د برېښنا په رفتار تېرشو
زه له ژونده د خوښۍ په هیله مست وم
ژوند پر مخ مې د ښېرې ګوزار تېرشو
یو ارمان مې په ځوانۍ کې پوره نه شو
د ځوانۍ عمر هم لاړ، په تلوار تېرشو
خپل خولې تندی، تناک لاسونه ژاړي
په خزان وهلي باغ چې مالیار تېرشو
پیالې تشې کړه، ساقي دې شفاعت کړي
که نه ژوند، درنه عبث خواروځار تېرشو
کفاره د ځوانۍ وباسه پیری کې
زلمیتوب خو دې په ولړه، نهار تېرشو
یو ارمان دې چیرې پرینږدې په ژوند کې
ژوند بیا نه راځي د هغو چې وار تېرشو
په جوماتو کې د ملا تقریر مه اوره
عمر یې ټول په بې عمله ګفتار تېرشو
نه د خپل، نه د پردو شوم پردیسی کې
ژوند مې خوشې د پردو په دیار تېرشو
د ۲۰۲۱ کال د مۍ ۲۵ مه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ